# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**18دلو_سال 1402**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


**عنوان** **صفحه**

**معین مسلکی، با معاون موسسه WARCHILD ملاقات نمود ----------------------------------------------------1**

**تر ۱۰۰ زیات مهاجرین له پاکستانه په جبري توګه وطن ته راستانه شول------------------------------------------2**

**آمر مهاجرین ولایت سرپل، با مسئولین کمیشنری ملل متحد ملاقات کرد -------------------------------------------3**

**د کډوالو د کښتۍ ډوبېدنه: یوتوپیا ۵۶ سازمان د سمندري قومندانۍ پر وړاندې شکایت ثبت کړی----------------------3**

**بلجیم: محکمې سازمانونو ته اجازه ورکړې چې د کډوالو اداري له بانکي حسابونو ۲،۹ میلیونه یورو واخلي----------5**

**صدراعظم آلمان خطاب به مهاجران: «ما با قاطعیت در کنار شما ایستاده ایم-----------------------------------------7**

**فرانسه: قاضی هفت مهاجر در معرض اخراج را به دلیل عدم دسترسی به تیلفون آزاد کرد ----------------------------8**

# متن کامل اخبار

## خوست، غلام خان فرضي کرښه کې مهاجرينو لپاره د ښه راغلاست مرکز جوړېږي

د وزارت ویب پاڼه



تېره ورځ د مهاجرينو او رستنېدونکو چارو وزير الحاج خليل الرحمن حقاني خوست، غلام خان فرضي دروازې څخه د ليدنې پرمهال د يو لړ مراسمو په ترڅ کې ددغه دفتر د بنسټ ډبره کېښوده

په يادو مراسمو کې د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزير وويل، د پسرلي په رارسېدو سره ښايي د راستنېدنې لړۍ لا چټکه شي او له مهاجرينو سره د ګاونډيو ناسم چلند ته په کتو اړينه ده، چې مونږ هراړخيز چمتوالی ولرو

په پام کې ده، چې په دغه مرکز کې به د راستنېدونکو مهاجرينو لپاره د ثبت او تثبيت دفتر، کلينيک، انتظار خوني، تشنابونه، لنډمهاله ميشت ځالی او نورې اړيني اسانتياوې برابرې شي، ترڅو په دغه لار هېواد ته راستنېدونکي مهاجرين له خپلو حقوقو برخمن او له ستونزو سره مخ نشي

## معین مسلکی، با معاون موسسه WARCHILD ملاقات نمود

ویب سایت وزارت



**مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، با آقای ون سنت معاون و مسوول برنامه ها ی موسسه WARCHILD در دفتر کارش ملاقات نمود.**

**دراین ملاقات در مورد ارایه خدمات و فعالیت ها ی آن موسسه برای اطفال در کشور بحث صورت گرفت.**

**محترم راشد، بر تطبیق بهتر پروژه ها ی نهاد مذکور بر اصول و قوانین امارت اسلامی تاکید کرد.**

**آقای ون سنت، از همکاری و هماهنگی با وزارت در راستای تطبیق برنامه های آینده آن نهاد اطمینان داد.**

## تر ۱۰۰ زیات مهاجرین له پاکستانه په جبري توګه وطن ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت

**د تورخم او سپین بولدک له فرضي کرښو څخه ۱۵۹ افغان مهاجرین د سلواغې په ۱۶ مه نېټه هېواد ته راستانه شول.**

**د ننګرهار ولایت د تورخم سرحدي آمریت د معلوماتو پر بنسټ ۱۹ کورنۍ، چې ۹۸ تنه کيږي په جبري توګه له پاکستان هېواد څخه راستنې شوې او د مهاجرینو په اداره کې تر ثبتېدو وروسته د مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمشنرۍ دفتر او د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور وپېژندل شوې.**

**د کندهار ولایت د سپین بولدک سرحدي آمریت د معلوماتو پر بنسټ ۷ کورنۍ، چې ۵۷ تنه کيږي او ۴ ماشومان د پاکستان هېواد له زندانونوڅخه ازاد او په جبري توګه له یادې فرضي کرښې څخه راستانه شول او د مهاجرینو په اداره کې تر ثبتېدو وروسته د مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ، د خوړو نړیوال سازمان او د مهاجرت نړیوال سازمان دفترونو ته وروپېژندل شول.**

۴ تنه بې سرپرسته ماشومان MPO مؤسسې ته وروپیژندل شول او د ګومارل شوې کمیټې له خوا هرې کورنۍ ته لس ـ لس زره افغانۍ ورکړل شوې.

## آمر مهاجرین ولایت سرپل، با مسئولین کمیشنری ملل متحد ملاقات کرد

ویب سایت وزارت



مولوی عبدالسلام هاشمی، آمر امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت سرپل، با مسوولان کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان، بتاریخ 16 دلو در دفتر کارش دیدار کرد.

مسئولین کمیشنری اهداف سفر شان را نظارت و ارزیابی از پروژه های سال های گذشته وپلان های آینده سال روان میلادی بیان داشتند.

هاشمی،از فعالیت ها و کارکرد کمیشنری برای مهاجرین و بیجا شده گان قدر دانی و خواهان کمک بیشتر آنان برای مهاجرین شد.

مسئولین دفتر متذکره از همکاری با هما هنگی آمریت مهاجرین در زمینه کمک رسانی و رسیده گی به وضعیت عودت کننده گان اطمینان دادند.

## د کډوالو د کېنتې ډوبېدنه: یوتوپیا ۵۶ سازمان د سمندري قومندانۍ پر وړاندې شکایت ثبت کړی

مهاجرنیوز



**یوتوپیا ۵۶ سازمان انګلیس کانال کې د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو قضیې په تړاو د فرانسې د سمندري قومندانۍ او د برېتانیا ساحلي ځواکونو پر وړاندې بولونی سور مېر څارنوالۍ ته شکایت ثبت کړی دی. دا پېښه د ۲۰۲۲ د دسمبر په ۱۴مه د فرانسې او برېتانیا ترمنځ اوبو کې رامنځته شوې وه.**

**د کډوالو د ملاتړ سازمان یوتوپیا ۵۶ د مانش او شمالي سمندر قومندانۍ او د برېتانیا ساحلي ځواکونو پر وړاندې شکایت ثبت کړی دی. دغه عریضه د سه شنبې په ورځ د فبرورۍ په ۶مه بولونی سور مېر څارنوالۍ ته وړاندې شوې ده .**

**د ۲۰۲۲ د دسمبر په ۱۴مه د کډوالو یوه کښتۍ په انګلیس کانال کې ډوبه شوه چې له امله یې لږترلږه ۴ کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ. د یوتوپیا ۵۶ په وینا، د وژل شویو کسانو له ډلې څخه یو تن پېژندل شوی دی. له دې پېښې څخه شاوخوا څلوېښت کسان ژغورل شوي وو .**

**دا هم ولولئ**
**<u>انګلیس کانال: څلور کډوال ډوب شوي او ۴۳ تنه نور ژغورل شوي دي</u>**

**ګراند سنت کې د یوتوپیا ۵۶ سازمان ځانګه وایي د پېښې په شپه یې یو غږیز پیغام ترلاسه کړ. په دغه پیغام کې اورېدل کېږي چې یو نارینه چې په کښتۍ کې سپور دی د مرستې غوښتنه کوي. نوموړی ټینګار کوي چې کښتۍ کې کورنۍ او ماشومان هم شته او څپې د لوړېدو په حال کې دي .**

**د جي پي اس د معلوماتو له مخې دغه پیغام د فرانسې له اوبو څخه یوتوپیا ۵۶ ته استول شوی و. یاد سازمان له ځنډ پرته د فرانسې سمندري قومندانۍ ته تلېفون کوي او وروسته فرانسوي او برېتانوي ژغورونکو ته د ایمیل له لارې پیغام**

**استوي، خو برېتانوي څواکونو د »مېدې« په نوم د بېړني حالت سېګنال چې د ژغورنې د عملياتو په پيل کې ورکول کېږي يو ساعت وروسته فعالوي .**

**يوتوپيا ۵۶ د ژغورل شويو له قوله وايي دوی هڅه وکړه چې له فرانسوي ژغورونکو سره اړيکه ونيسي، خو بريالي نه شول .**

**د يادولو ده چې له دې وړاندې د برېتانيا پوليسو <u>پر يو کس د دغو څلورو کډوالو د وژنې تور لګولی</u> و. چاروا‌کو د ۲۰۲۳ په اپريل مياشت کې په يوه خبرپاڼه کې ويلي وو چې د ابراهيمه با په نوم يو کس دغه پېښه کې لاس لري .**

**دا هم ولولئ**
**<u>انګليس کانال: د کښتۍ ډوبېدو وروستۍ پېښه کې دوه کم عمره سوريايي کډوال مړه شوي</u>**

**ياد سازمان په خپله اعلاميه کې ليکلي چې د ۲۰۲۴ په جنورۍ کې د انګليس کانال له لارې برېتانيا ته د اوښتونکو کډوالو شمېر د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۱۳ سلنه زيات شوی او پر دغه لار د مړو شمېر له ۱ څخه ۶ ته لوړ شوی دی .**

**د سمندري قومندانۍ د شمېرو له مخې، په ۲۰۲۳ کې ۳۶ زرو کسانو هڅه وکړه چې د انګليس کانال له لارې ځانونه برېتانيا ته ورسوي. دغه شمېرې د ۲۰۲۲ په پرتله ۳۰ کموالی ښيي. د قومندانۍ معلومات ښيي چې په ۲۰۲۳ کې ۱۲ کسان د فرانسې اوبرېتانيا ترمنځ اوبو کې مړه شوي دي .**

## بلجيم: محکمې سازمانونو ته اجازه ورکړې چې د کډوالو ادارې له بانکي حسابونو ۲،۹ ميليونه يورو واخلي

مهاجرنيوز





**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

د بروکسل د استیناف محکمې مرستندویه سازمانونو ته اجازه ورکړې ده چې د کډوالو ادارې یا فدازیل له بانکي حسابونو څخه ۲،۹ میلیونه یورو پیسې واخلي. د کډوالو ادارې د دې پرېکړې پر وړاندې د استیناف غوښتنه کړې ده .

د بروکسل د استیناف محکمې د جنورۍ په ۲۳مه ۹ مرستندویه سازمانونو ته اجازه ورکړه چې د کډوالو ادارې یا فدازیل له بانکي حسابونو څخه ۲،۹ میلیونه یورو واخلي. فدازیل دنده لري چې بلجیم کې پناه غوښتونکو ته سرپناه برابره کړي.

د ۲۰۲۱ له سپتمبر میاشتې راهیسې فدازیل شاوخوا ۸۸۰۰ ځله پناه غوښتونکو ته د سرپناه نه ورکولو په تور د قضایي ارګانونو له خوا جریمه شوی دی. خو خپلې جریمې یې نه دي ورکړې.

شاوخوا ۳۰۰۰ پناه غوښتونکي سرپناه نه لري

یادو سازمانونو په یوه اعلامیه کې چې د فبرورۍ په ۲مه خپره شوې لیکلي دي، د قضایي ارګانونو پرېکړو ته د درناوي او د هرکلي حق د مراعاتولو لپاره یې فیصله وکړه چې محکمې ته شکایت ثبت کړي. په اعلامیه کې راغلي دي چې دوی غوښتل د دې یادونه وکړي چې بلجیم کې قانون حاکم دی او حکومت نه شي کولی چې د محکمې پرېکړو ته توجه ونه کړي.

د یادولو ده چې د بلجیم ابتدایي محکمې د شکایت کوونکو غوښتنه رد کړې او ویلي یې وو چې سازمانونه نه شي کولی د حکومت له امکاناتو څخه ګټه پورته کړي. خو د سیرې سازمان مشرې سوتیتا نګو کډوال نیوز ته وایي دوی د استیناف په پړاو کې محکمې ته ثابته کړه چې حکومت خپل مسولیتونه ادا کړي نه دي.

که څه هم دغو سازمانونو د فدازیل یو بانکي حساب ته لاسرسی موندلی خو تر اوسه یې پیسې نه دي ترلاسه کړې. دا ځکه چې فدازیل په خپل وار د محکمې د پرېکړې پر وړاندې د استیناف غوښتونکی شوی دی.

یاد سازمانونه په پام کې لري چې دغه مبلغ د «هرکلي سیستم د قربانیانو» لپاره وکاروي. دا پیسې به پر هغو سازمانونو وویشل شي چې سرپناه نه لرونکو پناه غوښتونکو ته مرستې رسوي.

دا هم ولولئ
<u>بلجیم: د دولت شورا مجردو کډوالو ته د سرپناه د نه ورکولو پرېکړه وځنډوله</u>

د پرېکړې «منفي اغېزې«

له تېرو څو کلونو راهیسې بلجیم د سرپناه له کړکیچ سره مخ دی. د سازمانونو په خبره، د د دغه هېواد په بېلابېلو ښارونو او په ځانګړې توګه پلازمېنه بروکسل کې شاوخوا ۳۰۰۰ کډوال تر شنه اسمان لاندې شپې سبا کوي. ډېری دغه کډوال د فلسطین او افغانستان اتباع دي.

د کډوالو اداره یا فدازیل بیا د بروکسل د استیناف محکمې پرېکړه د «تاسف وړ» بولي. د دې ادارې ویاند بنوا مانسي کډوال نیوز ته وایي: «دا مو هیله او آرزو ده چې د ټولو خلکو هرکلی وکړو خو امکانات مو همدومره دي. د هرکلي ظرفیت په تدریج سره مخ په لوړېدو دی خو دا کافي نه ده.» د فدازیل د شمېرو له مخې دمګړی په بلجیم کې پناه غوښتونکو ته ۳۵۸۰۰ سرپناوې ځانګړې شوې دي.

بل پلو د پناه غوښتنې او کډوالۍ چارو وزیرې نیکول دو مور ویلي دي چې له فدازیل څخه د دغو مالي امکاناتو اخیستل به پر یادې ادارې «منفي اغېزې «ولري. هغې زیاته کړې ده چې «په تېرو دوو کلونو کې د اضافي ځایونو د موندلو په

برخه کې زياتې هڅې شوې دي او لسګونه نوي مراکز پرانيستل شوي دي». په وينا يې دوی خپلو هڅو ته ادامه ورکوي خو «د هرکلي مراکز په يوازې سر تاکل شوې موخې نه شي پوره کولی.«

## صدراعظم آلمان خطاب به مهاجران: «ما با قاطعیت در کنار شما ایستاده ایم

مهاجرنیوز

در حالی که در آلمان از چندین هفته به این سو تظاهرات برعلیه راستگرایان افراطی جریان دارد، اولاف شولتس، صدراعظم این کشور به مهاجران از حمایت قاطع حکومت فدرال اطمینان داد .

شولتس پس از دیدار با نمایندگان سازمان های مهاجران که روز دوشنبه در برلین برگزار شد، گفت: «ما با قاطعیت در کنار شما ایستاده ایم» و نمی گذاریم که راست گرایی افراطی و عدم رواداری در میان مردم تفرقه بیاندازد.

صدراعظم آلمان افزود: «آن چه که دیگر به هیچ صورت نباید در جامعه ما جایی داشته باشد، ایدیولوژی نژادپرستانه و ملی گرایی قومی است». او در ادامه از تظاهرات و اجتماعاتی که از چندین هفته به این سو در سراسر آلمان برعلیه راست گرایان افراطی برگزار می شود، استقبال کرد.

در همین زمینه
دیدار صدراعظم و وزیر ادغام آلمان با نمایندگان اتحادیه های مهاجران

این تجمعات اعتراضی پس از آن آغاز شد که شبکه تحقیقاتی «کوریکتیو» پلان های شبکه های راست افراطی را درباره اخراج شهروندان مهاجر تبار از آلمان افشا کرد.

به گفته صدراعظم آلمان در این کشور از تقریبا هر چهار نفر یکی پس زمینه مهاجرت دارد. شولتس گفت: «۲۰ میلیون زن و مرد، همکاران، هم صنفی ها، همسایگان، دوستان در انجمن های ورزشی، شهروندانی که این جا برای پیشبرد کشورمان کمر بسته اند. بسیاری از آن ها از دهه ها پیش به این سو در اینجا هستند». او افزود، آلمان «خانه مشترک ما است.«

ریم اﻻبالی رادوان، مامور ادغام حکومت آلمان فدرال نیز در این گفتگو که در دفتر صدراعظم آلمان برگزار شد، سهم داشت.

در همین زمینه صدراعظم آلمان از تظاهرات علیه «نژادپرستی و نفرت پراکنی» استقبال کرد

او با توجه به سلسله تظاهراتی که در حال حاضر در سراسر آلمان جریان دارد، خواهان این شد که بوندس تاگ (پارلمان آلمان فدرال) با سرعت هرچه بیشتر قانون حمایت از دموکراسی را به تصویب برساند. مدت ها است که در بوندس تاگ بحث و گفتگو برسر این قانون جریان دارد. به گفته الابالی رادوان، این کار می تواند یک پیام قوی به انسان هایی باشد که برای حمایت از دموکراسی تظاهرات می کنند.

هدف از تصویب این قانون این است که مسئولان آموزش سیاسی و پشتیبانان دموکراسی به صورت دائمی تمویل شوند. تا به حال تمویل چنین اقداماتی در چارچوب پروژه های مشخص انجام می شد. حتی کارهای ابتکاری موفق پس از پایان دوره تمویل پروژه به پایان می رسند. بیش از یک سال است که بحث و گفتگو راجع به این قانون در بوندس تاگ جریان دارد.

## فرانسه: قاضی هفت مهاجر در معرض اخراج را به دلیل عدم دسترسی به تیلفون آزاد کرد

مهاجرنیوز




یک قاضی دادگاه در شهر لیل فرانسه، حکم آزادی هفت مهاجر غیرقانونی و در حال اخراج از بازداشت اداری را صادر کرد. به گفته این قاضی، مطابق قانون، بازداشت شدگان برای تماس با نزدیکان شان به تیلفون دسترسی نداشته‌اند. فرمانداری پولیس علیه این حکم درخواست تجدید نظر کرده است.

به گزارش روزنامه فیگارو، شنبه ۳ فبروری قاضی آزادی و بازداشت لیل، حکم آزادی ۷ مهاجر بدون مدرک از بازداشتگاه اداری را صادر کرد. این افراد، شامل چهار الجزایری، یک سودانی، یک مراکشی و یک گرجستانی با تصمیم فرمانداری پولیس بازداشت شده بودند و قرار بود از فرانسه اخراج شوند.

بر اساس قانون، بازداشت شدگان بدون مدرک در مراکز توقیف اداری (CRA) باید ظرف ۴۸ ساعت بعد از بازداشت، به قاضی معرفی شوند و در صورت نیاز، ۲۸ روز دیگر می‌توانند در بازداشت بمانند. در جریان بازداشت، آنان حق دارند با یک تن از نزدیکان یا فرد مورد اعتماد خود تماس بگیرند.

قاضی گفت که شرایط بازداشت این افراد، حقوق قانونی اتباع خارجی بازداشت شده را نقض کرده زیرا آنان برای تماس با افراد مورد اعتماد شان به تیلفون دسترسی نداشته‌اند.

بر اساس قانون، در بازداشتگاه‌های اداری، هر پنجاه نفر بازداشت شده باید دستکم به یک تیلفون دسترسی آزاد داشته باشند اما در هفته‌های اخیر، چندین غرفه تیلفون بازداشتگاه لیل- لکن توسط بازداشت شدگان تخریب شده و از کار افتاده بود.

**در همین زمینه**

**برای یازدهمین بار فرانسه به دلیل بازداشت اداری افراد زیرسن محکوم شناخته شد**

**اولیویه کاردون و کلیر پره نو، دو وکیل مدافع بعد از بازدید از بازداشتگاه در دسمبر گذشته، در گزارشی نوشتند که در پنج زون با ظرفیت ۱۱۷ نفر، تنها یک تیلفون فعال بوده و چهار دستگاه دیگر گوشی نداشته است.**

**قاضی با درنظرداشت تصدیقنامه سازمان خیریه اس او اس سولیداریته در مورد مشکل تیلفون، حکم آزادی هفت بازداشت شده را صادر کرد.**

**وکیل تعیین شده برای بازداشت شدگان به روزنامه فیگارو گفت که پیشتر دادگاه شهر دووی نیز در حکمی در اول فبروری، یک الجزایری در حال اخراج را به دلیل مشکل تیلفون آزاد کرده بود. مسئولان بازداشتگاه اداری در دادگاه گفتند که قرار بوده تیلفون‌های بازداشتگاه به روز ۸ فبروری فعال گردد.**

**فرمانداری پولیس شمال فرانسه در مخالفت با تصمیم قاضی گفت که برخی از تیلفون‌ها ترمیم و فعال شده‌اند و در صورت نیاز تیلفون‌های موبایل نیز در اختیار بازداشت شدگان قرار دارد اما قاضی این استدلال را نپذیرفت.**

**فیگارو از قول فرمانداری نوشت که مقامات علیه حکم قاضی درخواست تجدیدنظر کرده‌اند .**

**در همین زمینه**
**فرانسه می‌خواهد تا ۲۰۲۷ شمار مراکز بازداشت اداری را دو برابر کند**

خبرنامه